
# مسیر
ورځپانه
www.maseerdaily.af
نوی لید، نوی مزل
دوشنبه د ۱۳۹۹ د لړم ۱۲مه | د ۲۰۲۰ د نومبر دویمه | ۶۲۱مه ګڼه


## ولایت


۴ مخ

### پنجشیر

په دې ولایت کې ۱۵۰ ښوونځي فعال دي، چې له دې ډلې يې ۵۰ لېسې او ۴۵ منځنۍ ښوونځي دي. د دې ښوونځيو د زده کوونکو شمېره ۴۵ زرو تنو ته رسېږي چې ۱۲ زره يې نجونې او پاتې يې هلکان دي.



### خپلواک: د اسیا پراختیایي بانک له افغانستان سره نږدې ۱۸ میلیونه ډالره مرسته کوي




د افغانستان د اوبو د چارو د تنظیم ملي اداره وايي چې د اسیا پراختیایي بانک له دغه هېواد سره د کرنیزو محصولاتو د لوړولو لپاره ۱۸،۲۸ میلیونه ډالرو مرستې ژمنه کړې ده.
د دغې ادارې ویاند نظام خپلواک ویلي چې دغه مرستې به په نهو ولایتونو کې ولګول شي.
خپلواک زیاته کړې: «یاده مرسته به د کوچنیو بندونو جوړولو په برخې کې مصرف شي چې له امله يې د ځمکې لاندې د اوبو کچه هم لوړېږي او په پایله کې د اوبو مدیریت او نه ضایع کېدو له امله کرنیز محصولات ډېرېدی شي.» بامیان، کندز، تخار، سمنگان، پنجشیر، پروان او میدان وردگ هغه ولایتونه دي چې دغه مرسته به پکې د کوچنیو بندونو د جوړېدو لپاره وکارول شي. د یادې ادارې معلوماتو په اساس، د اسیا پراختیایي بانک له ۲۰۰۲ ز کال راهیسې د طبیعي سرچینو او د کلیو پراختیا سکتورونو په برخو کې لږ تر لږه ۸۷۹ میلیونه ډالر مرسته کړې ده.

# امریکايي ټاکنې او افغان سوله؛

## واشنګټن پوسټ: د افغانستان وضعیت سپینې ماڼۍ ته په راتلونکي کس پورې تړلی دی



۳


د کابل امن او نظم، وروستۍ هڅې او تمې — ۲ مخ

افغان سوله؛ پاکستان ته د ګلبدين حکمتيار سفر — ۲ مخ

زموږ د رحمة للعالمین پیغمبر دښمنان څوک دي؟ — ۳ مخ


## بهرنیو چارو وزارت: امریکا د سولې په روانو خبرو کې له افغان حکومت خپل ملاتړ ته دوام ورکوي

د بهرنیو چارو سرپرست وزیر حنیف اتمر د امریکا له سرپرست سفیر سره د افغانستان د وروستیو امنیتي او سیاسي بدلونونو، د سولې خبرو اترو پر وړاندې د پرتو خنډونو په اړه خبرې کړې دي.
د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت وایي چې محمد حنیف اتمر په کابل کې د امریکا د متحده ایالاتو سفارت له شارژدافیر او سرپرست روز وېلسون سره کتلي او د سولې پر پروسې سربېره يې پر مهمو مسایلو ورسره خبرې کړې دي.
سرچینې زیاته کړې، په دې کتنه کې د بهرنیو چارو سرپرست وزیر د افغانستان اسلامي جمهوریت او امریکا متحده ایالاتو تر منځ ستراتېژیکو اړیکو په یادونې سربېره، په تېرو ۱۹ کلونو کې د افغانستان له دولت سره د هغه هېواد د دوامدارو مرستو او ملاتړ او له افغان سولې بهیر څخه د هغه هېواد د ملاتړ له امله مننه وکړه او دواړو لورو په دې هکله مفصلې خبرې وکړې.
په خبرپاڼه کې راغلي، چې دغه راز دواړو لورو د افغانستان د وروستیو امنیتي او سیاسي بدلونونو، د سولې خبرو اترو پر وړاندې د پرتو خنډونو، د دې بهیر د بریالیتوب لپاره د سیمه ییز او نړیوال ملاتړ پر ارزښت او د کابل او واشنګټن تر منځ د همکاریو د پیاوړتیا په هکله خبرې وکړې او له یو بل سره يې نظریات شریک کړل.
د بهرنیو چارو وزارت ویلي، په پای کې حنیف اتمر په افغانستان کې سولې او ثبات ته د رسېدو برخه کې، د افغانستان له خلکو او دولت سره د امریکا متحده ایالاتو ملاتړ مهم وباله. سرچینې زیاته کړې، راس وېلسون هم اتمر ته له افغانستان سره د خپل هېواد د دوامداره ملاتړ او همکاریو ډاډ ورکړ.


### د بشري حقونو د څار سازمان: ښکېلې خواوې دې د ملکیانو خوندیتوب ته جدي پام وکړي



۵مخ


### مشرانو جرګه:

## امریکا باید با دولت و مردم افغانستان همکار باقی بماند



مشرانوجرگه، از ایالات متحدهٔ امریکا می خواهد تا مطابق پیمان همکاری های ستراتیژیك و پیمان امنیتی کابل-واشنگتن، برای استقرار صلح و ثبات دایمی، در کنار دولت و ملت افغانستان قرار داشته باشد.
همچنان مشرانوجرگه شورای ملی افغانستان، از حکومت افغانستان می خواهد تا در مورد اینکه نیروهای آمریکایی قبل از ترك پایگاه های شان، دست به تخریب تأسیسات شان می زنند و وسایط نظامی شان را قسماً نابود و یا هم به پاکستان منتقل می نمایند، با مقام های امریکایی صحبت کند و قناعت آنان را برای سپردن تأسیسات و تسلیحات نظامی به نیروهای امنیتی افغانستان، به روش مناسب فراهم نماید.
دونالد ترامپ رییس جمهور ایالات متحدهٔ امریکا در هفدهم میزان سال روان اعلام کرده است که نیروهای باقی مانده کشورش را از افغانستان قبل از آغاز سال آیندهٔ میلادی بیرون می کند. با این حال گزارش هایی منتشر شده که نیروهای امریکایی مستقر در افغانستان، بعد از ترک پایگاه های نظامی شان، تاسیسات شان را تخریب و برخی وسایل نظامی شان را به پاکستان انتقال می دهند. مشرانوجرگه دیروز در مورد اعلامیه ای را منتشر کرد.
مشرانوجرگه از ایالات متحده امریکا خواسته است تا مطابق پیمان همکاری های ستراتیژیك و پیمان امنیتی کابل – واشنگتن، برای استقرار صلح و ثبات دایمی در کنار دولت و ملت افغانستان قرار داشته باشد.


Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life



دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دریـــځ

### د کابل امن او نظم، وروستۍ هڅې او تمې

د کابل ښار د امن او نظم لپاره وروستیو هڅو تر اوسه پورې مثبته پایله لرلې ده. په ښار کې غلاوې او شوکې کمې شوې دي. یو شمېر مجرمین نیول شوي، خو ډېر یې وېرېدلي دي او ځانونه یې پټ کړي دي. له بله اړخه د ښار د نظم لپاره هم ځینې کارونه شوي دي، ځینې لارې پرانیستل شوي، غصب شوې سیمې خلاصې شوي او ځینې نور کارونه هم شوي دي.
دا ټول کارونه مهم او د ستاینې وړ دي. کابل ښاریان د دې هڅو او کړنو هرکلی او ستاینه کوي، خو لا هم څو جدي او مهمې اندېښنې لري:
لا هم تمرکز په ځانګړي ډول د ښاري نظم تمرکز د ښار په ځینو سیمو دی او ټولې برخې یې نه دي را نغاړلي. په ځینو سیمو کې کارونه شوي، خو تر ډېره سمبولیک دي او اساسي کار نه دی شوی. د ښار د نظم او تنظیم په برخه کې شوي کارونه واړه دي. په ښار کې د نظم پر وړاندې د لویو خنډونو د لرې کولو هڅې نه تر سترګو کېږي، د لویو غاصبینو پر وړاندې ګام نه اخیستل کېږي او یوازې د څو وړو غاصبینو پر ضد ګام اخیستل شوی دی، چې په نظم او تنظیم کې یې لویه مرسته نه ده کړې. د دې تر څنګ په لارو او سرکونو کې د لویو موانعو د لرې کولو او د سرکونو د ازادولو په برخه کې هم کوم محسوس کار نشته او داسې ښکاري چې د امنیتي دلایلو په خاطر به دولت په دې برخه کې کوم خاص څه نه کوي.
له بله اړخه مهمه او اساسي وېره دا ده چې دا کارونه به لنډمهاله وي او ښایي دولت یو ځل بیا د کابل امن او نظم له لومړیتوبه وباسي چې دا چاره به نه یوازې بېرته نا امني خپره کړي، بلکې د ښار د نظم لپاره شوي کارونه به هم په ټپه ودرېږي او پخواني شوي پرمختګونه به هم له لاسه ووځي. دا وېره ځکه جدي ده چې اوس دا هر څه د سیستم له مخې نه دي روان او یوازې له پاسه د فشار په پایله کې دا پرمختګونه شوي دي. دا وېره شته چې کله له پاسه فشارونه کم شي، نو اړوند وزارتونه او ادارې به بېرته پخواني حالت ته وګرځي او بیا به په خپله دنده کې فساد او عفلت کوي. تر هغو چې اصلي او مسوولې ادارې خپل کار ونه کړي او په کوچنیو کارونو کې ولسمشر او د هغه مرستیالان مداخله وکړي او تنظیم یې کړي، موږ د اساسي او دوامداره سمون تمه نه شو کولی. له بده مرغه اوسني کارونه سیستماتیک او منظم نه دي، نو ځکه یې د له لاسه ورکولو وېره شته.
په ټوله کې د کابل ښار د امن او نظم په برخه کې وروستۍ شوې هڅې او پرمختګونه د ستاینې وړ دي، خلک ترې خوښ دي او ملاتړ یې کوي، خو د دې لپاره چې د کابل ښار د امن او نظم لپاره اساسي کار وشي، پکار دي چې دا سمونې او هڅې د سیستم برخه شي او هره اداره په دې برخه کې خپل رول ولوبوي. د دې تر څنګ د امن او اصلاح لپاره باید ټول ګامونه له توپیر پرته واخیستل شي. د ټولو وړو او لویو غلو، غاصبینو او هغو کسانو پر ضد باید ګام واخیستل شي چې د ښار امن او نظم یې خراب کړي دي. ولس په دې چاره کې د حکومت تر څنګ دی او حکومتي چارواکي باید ثابته کړي چې رښتیني دي.

# افغان سوله؛ پاکستان ته د ګلبدین حکمتیار سفر

◀ لیکنه: د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

په دې وروستیو کې پاکستان ته د افغان سیاستوالو سفرونه د هغه هېواد له رسمي بلنو وروسته زیات شوي دي. په دې لړ کې د روان کال د اکتوبر میاشتې په ۱۸مه ښاغلي ګلبدین حکمتیار هم د صدر اعظم عمران خان په بلنه یاد هېواد ته درې ورځنی سفر وکړ. په داسې حال چې د ښاغلي حکمتیار تر سفر درې اونۍ وړاندې د سولې شورا مشر ښاغلی عبدالله عبدالله په یو رسمي سفر پاکستان ته تللی و. په هېواد کې دننه له یادو سیاسي څېرو مخکې، پاکستان هڅه کړې چې په قطر دفتر کې مېشتو طالبانو ته هم پاکستان ته د سفر بلنه ورکړي، چې په دې لړ کې د اګست په ۲۴مه د ملا عبدالغني برادر په مشرۍ د طالبانو یو هیئت اسلام آباد ته سفر وکړ او له هغې وړاندې له کابل څخه د محمد محقق په ګډون، ځینو نورو سیاسي څېرو هم د اسلام آباد په بلنه اسلام آباد ته سفرونه کړي وو.
دا چې پاکستان ته په دې وروستیو کې د افغان سیاسیونو سفرونه ولې زیات شوي او پر افغان سولې به څه ډول اغېزې ولري، په دې تحلیل کې مو پرې شننه کړې ده.

پاکستان ته د انجنیر حکمتیار سفر؛ یوه لنډه ارزونه

د افغانستان لپاره د پاکستان د سفیر ښاغلي منصور خان په خبره، د افغان سولې په اړه د خپلمنځي خبرو اترو په لړ کې پاکستان دا پالیسي غوره کړې، څو د ولسمشر محمد اشرف غني د حکومت تر څنګ له افغان سیاسي مشرانو سره خپلې اړیکې نورې هم نږدې کړي، څو بین الافغاني خبرې اترې کامیابۍ پر مخ ولاړې شي. د پاکستان دې پالیسۍ ته په کتو لومړی د ملا عبدالغني برادر په مشرۍ د طالبانو یو هیئت په رسمي بلنه اسلام آباد ته سفر وکړ. له هغې وروسته د ملي روغې جوړې مشر ډاکتر عبدالله عبدالله د لومړي وزیر عمران خان په رسمي بلنه یاد هېواد ته سفر درلود. که څه هم تر دې مهاله په خپلمنځي خبرو اترو کې د پام وړ کوم پرمختګ نه لیدل کېږي، خو پاکستان د افغان طالبانو او افغان حکومتي چارواکو د کوربه‌توب پر مهال په افغان سوله، سوداګرۍ او د دوو اړخیزو اړیکو په پراخولو کې د زیاتې مرستې ډاډ څرګند کړی و.
ښاغلي ګلبدین حکمتیار په اتیایمه میلادي لسیزه کې د روس پر خلاف جهاد کې مهمه ونډه درلوده او د جهاد په دوران کې یې له پاکستان سره ډېرې نږدې اړیکې درلودې؛ خو د طالبانو د حاکمیت په دوران کې یې اړیکې له یاد هېواد سره سړې شوې، تر دې چې ایران ته کډه شو. پر افغانستان د امریکا تر یرغل وروسته؛ له ایران څخه هم ووت او د امریکا د اشغال خلاف د طالبانو په خوا ودرېد او په ۲۰۱۶ کال کې یې د ملي یووالي حکومت پر مهال د ولسمشر محمد اشرف غني له حکومت سره د سولې هوکړه لیک د لاسلیک په ترځ کې له څو کلنې جلا وطنۍ وروسته کابل ته راغی.
د روان کال د اکتوبر په ۱۸مه د پاکستان هېواد په رسمي بلنه ښاغلي ګلبدین حکمتیار یاد هېواد ته د درې ورځني سفر په ترځ کې د لومړي وزیر عمران خان، ولسمشر عارف علوي، ملي اسامبلۍ او سناء مشرانو (اسد قیصر او صادق سنجراني) تر څنګ، د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي او ځینو نورو سیاسي احزابو له مشرانو سره ولیدل. د ګلبدین حکمتیار تر سفر وړاندې د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت په خپره کړې اعلامیه کې څرګنده کړې وه، چې د سولې په اړه د نظریاتو تبادلې، دوو اړخیزو اړیکو او د خلکو تر منځ د اړیکو ټینګولو په برخه کې به خبرې وشي. ښاغلي حکمتیار د خپل سفر په ترځ کې د (IPS) په نوم یو څېړنیز مرکز کې هم د افغان سولې په اړه وینا وکړه. پر ښاغلي حکمتیار باندې د وروستي سفر په ترځ کې ځینې نیوکې هم وشوې. هغه داچې د ډیپلوماتیک عرف په خلاف یې د افغان حکومت په اړه تونديء خبرې وکړې او د هند او ایران په اړه یې هم تونديء خبرې وکړې او دواړه هېوادونه یې په زغرده د سولې د روان بهیر په مخالفت تورن کړل. حال دا چې د سولې سفیر باید د ټولو پر وړاندې نرمه لهجه وکاروي او د روغې جوړې خبرې وکړي. که څېرته افغان سیاستوال د دوو سیالو هېوادونو تر منځ د یو لوري ملاتړ او پر بل تورونه لګوي، نو بیا له دې چې ګاونډي هېوادونه د سولې پر وړاندې لاهم حساس شي او په دې لاره کې خنډونه جوړ شي، بلکه کومه لاسته راوړنه ښایي ونه لري.
پر له پسې سفرونه او پر سوله یې اغېزې
پاکستان ته د ښاغلي حکمتیار او نورو سیاستوالو له وروستیو سفرونو دا په ډاګه کېږي، چې پاکستان په دې کوښښ کې دی څو له راتلونکي افغان حکومت سره د اړیکو پراخولو لپاره د افغان سیاستوالو ملاتړ له اوس نه خپل کړي او ښایي دا لامل هم وي چې طالبانو ته وښیي چې پاکستان کولای شي له طالبانو پرته له نورو افغان سیاستوالو سره هم نږدې اړیکې ولري. د پاکستان د دې نوې پالیسۍ په لړ کې د یاد هېواد پارلمان مشر اسد قیصر په رسمي بلنه تر حکمتیار وروسته، د افغانستان د ولسي جرګې مشر میر رحمان رحماني په مشرۍ ۱۷ کسیزه هیئت د اکتوبر په ۲۳مه اسلام آباد ته ور وغوښت. د افغانستان او پاکستان د پانګونې دوې ورځنۍ غونډې ته چې د ولسي جرګې د مشر سفر په ترځ کې تر سره شوې، لومړي وزیر عمران خان په ډاګه کړه چې له پاکستان سره دا اندېښنه شته چې هند به افغان خاوره د پاکستان پر خلاف وکاروي. د لومړي وزیر دې څرګندونو ته په کتو، ښایي پاکستان به په افغان سوله کې هغسې رول ونشي لوبولی، په کوم ډول چې د دې هېواد چارواکي یې په اړه څرګندونې کوي. د هغې لامل ښایي دا وي چې طالبان د پخوا په نسبت د پاکستان له فشار او اغېز څخه په کافي واټن کې دي. په همدې پار پاکستان نه یوازې له افغان حکومت؛ بلکې د حکومت له مخالفو سیاستوالو سره د نږدې اړیکو جوړولو هڅې ګړندۍ کړې دي، څو له یوې خوا پر طالبانو فشار راولي او له بلې خوا له افغان سیاستوالو څخه په ګټې اخیستنې، د افغان حکومت پام دې ته واړوي څو له سولې وروسته په افغانستان کې د یاد هېواد ګټې خوندي وساتي.
ښاغلی حکمتیار د افغان سولې په اړه د لنډمهالي حکومت پلوي کوي. د نوموړي په اند، له اوربند مخکې دې لنډمهالی حکومت رامنځ ته شي څو اوربند پلی شي؛ ځکه طالبان نه غواړي چې له اوسني حکومت سره کار وکړي. دا په داسې حال کې ده چې د طالبانو او افغان حکومت پلاوي په دوحه کې لاهم د بین الافغاني خبرو اترو د پیل کېدو لپاره په طرزالعملونو کار کوي، چې د تمې خلاف یې یوه نیم میاشت وخت ونیو. ښاغلی حکمتیار بیا په دې هڅه کې دی څو له حکومتي پلاوي پرته د سیاسي- جهادي احزابو په راغونډولو سره له طالبانو سره مخامخ خبرې پیل کړي، هغه څه چې تر سره کېدل یې ناشوني ښکاري او د کېدو په صورت کې هم له طالبانو سره په داخل کې دسولې لپاره د ملي اجماع هڅې تر پوښتنې لاندې راولي. په هېواد کې د تېرو ولسمشریزو ټاکنو له تر سره کېدو وړاندې، ځینو نورو سیاستوالو هم د لنډمهالي حکومت د رامنځ ته کېدو په اړه غوښتنې کولې؛ خو د ولسمشریزو ټاکنو له تر سره کېدو سره د لنډمهالي حکومت د رامنځ ته کېدو غوښتنې تتې شوې.
د سیمې ځینې هېوادونه لکه ایران او هند چې د اوسني حکومت ملاتړي دي، هڅه کوي څو اوسنی حکومت خپله موده پوره کړي، هغه څه چې ښایي د پاکستان لپاره په زړه پورې نه وي. بلخوا د افغان سولې په اړه د امریکا او پاکستان وروستیو هڅو د پخواني ولسمشر حامد کرزي خاموشي ماته کړې. د نوموړي په آند، د افغان سولې په اړه هره پټه معامله افغانانو ته د منلو وړ نه ده.
په همدې خاطر دا هم اړینه ده څو افغان سیاسیون او د سولې فعالین، افغان خاوره د هند او پاکستان د سیالیو له ډګر څخه وساتي او د سولې په دې نازک حالت کې داسې ډول څرګندونې تر سره نه کړي، چې افغان سوله ترې په منفي توګه اغېزمنه شي.
پاکستان او نورو ګاونډیو هېوادونو ته د افغان سیاستوالو سفرونه کولی شي د دوو اړخیزو اړیکو ټینګولو او افغان سولې پروسې ګړندي کولو کې مرسته وکړي، خو په دې شرط چې سیمه ییزې سیالۍ په نظر کې ونیول شي او د افغانستان ملي ګټې او د سولې ټینګښت یې اساسي موخه وي.

# د امریکا ټاکنې او بې مخینې ناکرارۍ؛

## امریکایي چارواکي: په روانو ټاکنو کې کړکېچ ښایي په امریکا کې کورنۍ جګړې رامنځته کړي

په امریکا کې د ولسمشرۍ ټاکنو له رارسېدو سره هممهاله، د دغه هېواد چارواکو د احتمالي ناکراریو او کړکېچونو د مهارولو لپاره خپل اقدامات ډېر کړي دي.
د واشنګټن په څېر د امریکا په یو شمېر لویو ښارونو کې مارکېټونو، هټیو، دوکانونو او نورو عامه ځایونو ته خبرداری ورکړل شوی چې له ټاکنو سره په یوه وخت دې د احتمالي ناکراریو لپاره هم خپل چمتووالی ولري.
امنیتي چارواکو دغه راز له خبرداریو سره سره، یوشمېر هټۍ تړلي، د کیمیاوي او نورو تحریک کوونکو توکو پر خرڅلاو یې هم بندیزونه لګولي دي. چارواکي وایي، دا کار یې ځکه کړی چې ښایي په راتلونکو څو ورځو کې په امریکا کې سختې ناکرارۍ رامنځته شي.
د واشنګټن په ګډون د امریکا په ګڼو نورو لویو ښارونو کې خلک او چارواکي اندېښمن دي چې ښایي روانې ټاکنې به په کړکېچ واوړي او په دغه هېواد کې به پراخې ګډوډۍ رامنځته شي او ان ښایي کورنۍ جګړې ته پکې لار هواره شي.
په ورته وخت کې د واشنګټن د پولیسو مشر پیټر نیوشام تېره اونۍ کانګرېس ته هم ووېل چې خلک او دوی پر دې باور دي چې د روان کال ټاکنې به سخت کړکېچونه رامنځته کړي او په دې سره به کورنۍ جګړې ته لاره هواره شي.
په ورته وخت کې د امریکا په لویو ښارونو کې پر نورو اقداماتو سربېره د ملي ګارډ ځواکونه هم ځای پرځای شوي او د ښارونو فضا تر ډېره نظامي بڼه خپلې کړې ده.
دا په داسې حال کې ده چې ټاکل شوې نومبر په درېیمه به په امریکا کې ولسمشریزې ټاکنې ترسره شي. دغو ټاکنو ته له ډیموکراټ ګوند څخه جوبایډن او له جمهوري غوښتونکي ګوند څخه ډونالډ ټرمپ ولاړ دی. دواړو نوماندانو له وړاندې پر راتلونکو ټاکنو کې د درغلیو تورونه لګولي دي.
ولسمشر ټرمپ چې په دغو ټاکنو کې



د جمهوري غوښتونکو استازولي کوي، خبرداری وکړی چې ټاکنې دی ګټې او له دې پرته هر ډول بله نتیجه ورته د منلو نه ده.
دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې هم په امریکا کې د ولسمشریزو ټاکنو په تړاو اندېښنې ښودل شوې دي. ډېری عام امریکایان او چارواکي پر دې باور دي چې دا ټاکنې ښایي کورنۍ جګړې ته لاره هواره کړي. بلخوا امریکایي چارواکو په دغو ټاکنو کې د یوشمېر بهرنیو هېوادونو د لاسوهنې په تړاو هم خبرداری ورکړی دی.
د امریکا د ملي امنیت مشر تېره اونۍ پر ایران او روسیې تور پورې کړ چې د متحده ایالتونو په ټاکنو کې یې د مداخلې او لاسوهنې هڅې ډېرې کړې دي.



# د چین تېر او راتلونکي پنځه کلن پلان ته کتنه

لیکواله: **غوټۍ**
د چین نړیوالې راډیو د پښتو څانګې خبریاله

په تېرو پنځو کلونو کې ټولو چینایانو د هېواد له پرمختګ څخه ګټې واخیستې او په راتلونکو پنځو کلونو کې به د چین حکومت څه نوی پلان جوړ کړي؟

د تېر پنځه کلن پلان لاسته راوړنې

د چین کمونېست ګوند د نولسمې دورې مرکزي کمېټې پنځمه عمومي غونډه اوس په بېجینګ کې روانه ده چې څه باندې ۳۰۰ تنه غړي پکې ګډون کوي. دغه غونډه د چین د واکمن ګوند یوه مهمه غونډه ده چې پکې به له ۲۰۲۱م کال څخه تر ۲۰۲۵م کال پورې په راتلونکو پنځو کلونو کې د چین د پرمختګ پلان ( یعنې د چین د څوارلسم پنځه کلن پلان) او تر ۲۰۳۵م کال پورې د چین د اوږدمهاله پرمختیایي هدف ټاکلو په اړه وړاندیزونه وشي.

په نړۍ کې د دوهم لوی اقتصاد په توګه د چین پرمختګ د ټولې نړۍ پاملرنې راجلبوي، نو په راتلونکي کې به د چین د پرمختګ پلان د افغانستان په شمول ټولې نړۍ ته څه فرصتونه برابر کړي؟ په دې لیکنه کې یادې پوښتنې ته ځواب پیدا کېږي.

لومړی، موږ باید په تېرو پنځو کلونو کې یعنې د چین د دیارلسم پنځه کلن پلان په موده کې د چینایانو په ژوند کې پرمختګونو ته کتنه وکړو.

په تېرو پنځو کلونو کې د چین حکومت د بې وزلۍ د له منځه وړلو لپاره ډول ډول تدبیرونه نیولي دي. د دغه پلان له مخې، په چین کې ۳۵ زره نوي استوګنیز ښارګوټي او ۲ میلیونه ٦ لکه او ٦۰ زره نوي کورونه جوړ شوي دي چې پکې څه باندې ۹ میلیونه او ٦ لکه بې وزله کسان نویو کورونو ته انتقال شوي او د دغه پلان موخه پوره شوې ده. په تېرو پنځو کلونو کې په ښارونو او علاقه داریو کې د کاري فرصتونو زیاتوالی ٦۰ میلیونو ته رسېدلی، تر ۲۰۱۹م کال پورې د چینایانو منځنی عمر ۷۷.۳ کلونو ته رسېدلی او څه باندې ۹۵٪ کسان د طبي بیمو په سیستم کې شامل شوي دي.

د چین له شمال لوېدیځې برخې زما د سترګو لیدلی حال

ما د رواني میاشتې له ۱۵مې نېټې څخه تر ۱۴مې نېټې پورې د چین په شمال لوېدیځه برخه کې د چینګهای او ګان سو له ولایتونو څخه لیدنه وکړه. ۵۳ کلنه مېرمن جانګجوماشجي چې د چینګهای ولایت د هوجو د تو قوم د کورواکې ولسوالۍ په بان یان کلي کې اصلي اوسېدونکې ده، په ۲۰۱٦م کال کې د ځایي حکومت تر مرستې لاندې له پخواني کور څخه نوي کور ته انتقال شوې. کورنۍ یې پخوا د سخت طبیعي چاپیریال له امله ډېره بې وزله وه او د ترافیک، څښاک اوبو، طب او تعلیم اسانتیاوې نه درلودې او ژوند یې له ستونزو ډک و. خو اوس په نوي کلي کې لوی او ښکلی کور لري، د یاد کلي خلک له نل اوبو او طبیعي ګازو څخه استفاده کوي. ځایي اوسېدونکي د حکومت تر مرستې لاندې د سیلانیزو چارو له پرمختګ څخه ګټې اخلي. بر سېره پردې، د مېرمن جانګجوماشجي په شمول لوړ عمر لرونکې مېرمنې د حکومت د روزنیزو خدماتو په رڼا کې د انلاین شرکت په مرسته د خامک دوزۍ په برخه کې انلاین ډول د مشتریانو سپارښتنې منلی شي او په خپل کور کې تولید شوي خامک دوزۍ په انلاین دوکانونو کې پلوري. دوی له دې لارې هره میاشت کابو زر یوانه تر لاسه کوي چې له بې وزلۍ څخه د خپل کور په وتلو کې مرسته ورسره کوي.

د ګان سو ولایت د دونګ شیانګ قوم کورواکې ولسوالۍ د مسلکي مهارتونو په روزنیز مرکز کې مې وکتل چې ځایي بې وزله او بې روزګاره کسان په وړیا توګه د لاسي صنایعو، سینګارولو، د ډوډۍ د پخولو او د سکواټړ د چلولو په شمول ډول ډول مسلکي روزنې تر لاسه کوي او تر روزنې وروسته مناسب کار پیدا کولای شي. ۲۱ کلنه نجلۍ هان لینګ لینګ د ۴ میاشتو لپاره د سکواټړ چلولو تر روزنې وروسته اړوند سند تر لاسه کړی او په دغې ولسوالۍ کې یې مناسب کار پیدا کړ چې هره میاشت څه باندې ٦۰۰۰ یوانه ګټې اخیستلی شي.

د دغو عامو وګړیو له کیسو څخه څرګندېږي چې د چین د حکومت بېلا بېلې ادارې د نویو چارو د پرمختګ، د کاري فرصتونو برابرېدو، د استوګنځایونو د ادارې او د کورونو د ابادولو له لارې له بې وزلۍ څخه د خلکو د وتلو لپاره مرستې کړې دي او د لیدو وړ بریالیتوبونه یې تر لاسه کړي دي.

راتلونکي پنځه کلن پلان

په تېرو ۵ کلونو کې د چین حکومت د خلکو د ښه ژوند د تامینولو لپاره اغیز تدبیرونه نیولي، نو په راتلونکو پنځو کلونو کې به څه پلان طرحه شي او داسې پلان به په نړۍ باندې څه اغیزه ولري؟

لومړی، د یادې غونډې له شروع کېدو مخکې د چین مشرانو له بېلا بېلو ځایونو څخه له لیدنو او څارنو، د خلکو له استازو سره له خبرو اترو او په انټرنېټ کې د عامو وګړیو له انلاین وړاندیزونو څخه څرګندېږي چې د خلکو د ژوند ښه والی به د چین د راتلونکي پلان یوه برخه وي. تعلیم او ښوونه، طب او روغتیا او استوګنیزو ښارګوټو جوړول به د پاملرنې وړ تکي وي.

دوهم، اوس د چین اقتصاد هم له ځینو ستونزو سره مخامخ دی، مثلاً، د چین په ختیځو او لوېدیځو برخو، ښارونو او کلیوالو سیمو کې د پرمختګ حالات نابربر دي. د دغو ستونزو د لیرې کولو په بهیر کې به نوی فرصتونه رامنځته شي. د بېلګې په توګه، له ۲۰۱۵م کال څخه تر ۲۰۱۹م کال پورې، په چین کې د ښاري کېدو د زیاتوالي اندول څلور اعشاریه پنځه سلنې ته رسېدلی یعنې کابو سل میلیون تنه له کلیوالو سیمو څخه ښارونو ته انتقال شوي دي.له دې امله په چین کې د مشتري بازار لا پراخ شوی دی. دا د ټولې نړۍ لپاره د اقتصاد د پرمختګ فرصت هم برابروي.

دریېم، په ټوله نړۍ کې د سوداګرۍ ساتونکې غوښتنه او یواړخیزم د سختېدو په حال کې دي. په تېره بیا د کرونا وبا له رامنځته کېدو وروسته، نړیوال اقتصاد مخ پرځوړ دی. خو چین پر خپل پلان او لایحې ټینګار کوي.

ویل کېږي چې په راتلونکو پنځو کلونو کې به چینایان د خپل ژوند د لا ښه کېدو لپاره نه ستومانه کېدونکې هلې ځلې وکړي، د دې ترڅنګ، چین به د اصلاحاتو او ورخلاصون پر تګلارې ټینګار وکړي او له ټولې نړۍ سره به لا ښې همکارۍ او د شیانو راکړه ورکړه وکړي. چین به له ټولې نړۍ سره د پرمختګ فرصتونه شریک کړي.

# امریکایي ټاکنې او افغان سوله؛

## واشنګټن پوسټ: د افغانستان وضعیت سپینې ماڼۍ ته په راتلونکي کس پورې تړلی دی



په افغانستان کې د تاوتریخوالي له اوج او په امریکا کې د راتلونکي ولسمشر په اړه وړاندوینو په افغانستان کې د سولې پروسه له نامعلوم برخلیک سره مخ کړې ده. ډېری رسنۍ او سیاسي فعالین او شنونکي پر دې باور دي چې د افغانستان وضعیت د امریکا له ټاکنو سره مستقیمه اړیکه لري او د سولې پروسه هم د سپینې ماڼۍ په وضعیت پورې تړلې ده. تازه واشنګټن پوسټ په یوه تحلیل کې په افغانستان کې خونړیو جګړو، د امریکا ټاکنو او د سولې پروسې ته کتنه کړې ده. په کور د ننه هم سیاسي فعالین وایي چې افغان سوله امریکایي نوماندانو ته کمپاینې مسئله ده او بس.

طالبانو او امریکا د روان ۲۰۲۰ز کال د فبرورۍ په میاشت کې د سولې هوکړه لاسلیک کړه او د دې هوکړې پر بنسټ باید طالبانو بین الافغاني خبرې پیل کړې وای، اوربند یې کړی وای او د خبرو له لارې یې له افغان حکومت سره ټولې ستونزې حل کړې وای، خو بین الافغاني خبرې په میاشتو وځنډېدې او له پیل سره یې هم په افغانستان کې نه یوازې دا چې تاوتریخوالی راکم نه شو، بلکې لا ډېر شو او جګړې لا شدیدې شوې. د نظامي چارو شنونکي په دې باور دي چې افغان حکومت د جګړې په مدیریت کې بریالی نه دی او امریکایي چارواکي بیا د افغانستان له مسئلې کمپاینې ګټه اخلي.

نړیوالې رسنۍ هم له دې مسئلې لرې نه دي. تازه واشنګټن پوسټ ورځپاڼې د افغانستان په اړه په یوه تحلیل کې لیکلي چې د افغانستان وضعیت په سپینه ماڼۍ کې روان وضعیت او د راتلونکي شخص له پالیسۍ سره تړلی دی. سرچینه کاږي، سره له دې چې ټرمپ ځان د افغانستان د سولې مسئلې ته ژمن ښیي، خو داسې ښکاري چې د ټاکنو په مخه کې د سولې خبرې مخ ته وړل یوازې کمپاینې شعار دی او بس. بلخوا د مطلب لیکوال پر دې باور دی چې طالبان د سولې تګلاره نه لري او په وروستیو ورځو کې یې ثابته کړې ده چې دوی تر سولې پر جګړه ډېر ټینګار کوي او د جګړې ډګر تود شوی دی. د سرچینې په خبره: ((د دې پر ځای چې طالبانو خبرې چټکې کړې وای، جګړه یې چټکه کړې ده. په ځینو فعالیتونو غواړې داسې سیګنالونه ولېږي چې ګواکې که امریکایي ځواکونه له افغانستان وځي، نو دوی د حکومت پر ضد جګړې ته ادامه ورکوي. په جنوبي ولایتونو کې د طالبانو وروستي بریدونه د دې خبرې ښه ثبوت دی)).

ورځپاڼه کاږي امریکا باید دې ته متوجه وي چې طالبان په ښکار د هغو کسانو د وژلو خبرداری ورکوي چې له امریکایي ځواکونو سره یې کار کړی دی. په دې مطلب کې همدا راز د ګاونډیو هېوادونو پر همکارۍ هم خبرې شوې دي. سرچینه کاږي چې د پاکستان په ګډون د افغانستان ډېری ګاونډي او نږدې هېوادونه د سولې له پروسې سره رښتیني همکاران نه دي او هر یو خپلې ګټې پالي. سرچینه کاږي، پاکستان ځان د سولې په پروسه کې ځان همکارۍ ته ژمن باله، خو اوس ثابته شوه چې دوی د هند له نفوذ وېره لري. د سرچینې په خبره: ((پاکستان وېره لري چې که سوله راشي، د هند نفوذ به ډېر شي. هند وېره لري چې پاکستان به یې پر وړاندې طالبان وکاروي او ایران بیا دا ګواښونه ښیي چې که خطر ورته متوجه شي په افغانستان کې به یې غچ اخلي)).

ورځپاڼې له القاعده شبکې سره هم د طالبانو پر اړیکو خبرې کړې دي او په خبره یې، ښایي دغه ډله د القاعده پر وړاندې له امریکا سره پر خپلو کړو ژمنو عمل و نه کړي، ځکه تر اوسه یې د دغه ډلې پر وړاندې هېڅ عملیات نه دي کړي او ډېری وسله وال یې د دوی تر نفوذ لاندې سیمو کې هم دي.


دغه ډول تحلیلونه د افغانستان د وضعیت په اړه داسې مهال خپرېږي چې په افغانستان کې جګړې شدیدې شوې دي او ټرمپ دلته د امریکا شل کلنه جګړه هم بې مانا بللې وه. ملګري ملتونه د سیمې هېوادونه بیا له طالبانو غواړي چې ژر تر ژره تاوتریخوالی کم کړي او د سولې خبرې پیل کړي.

## د کتاب خبرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# ISI, RAW
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### دویمه برخه
### د نړۍ دویم تر ټولو زوړ مسلک




دولت: د ISI د مشر پرېکړه به وروستۍ خبره وه، هغه به چې څه ویل هماغسې کېدل. سم یا ناسم. هغه به چې څه ویل د ځان لپاره یې حق گاڼه. زموږ ملگرو په تحلیل کې خورا احتیاط کاوه.

دورانی: د سیاسي تحلیل په برخه کې د ISI ورتیا ډېره محدوده شوې ده. یحیی خان په ۱۹۷۰ کال کې ټاکنې ترسره کړې، ځکه چې استخباراتي ادارو ورته ویلي وو چې د حکومت د دوام لپاره باید ټاکنې وشي. خو یادې ټاکنې په ختیځ پاکستان کې د مجیب الرحمن او په لوېدیځ پاکستان کې د بوټو په برخه شوې او یحیی خان په خالي میدان پاتې شو. کله چې زه د ISI مشر وم، د ۱۹۹۰ کال د ټاکنو لپاره مو د خلکو سروې او ارزونه وکړه. ما په خپله وړاندوېینه کې وویل چې د پاکستان د خلکو گوند به په ټاکنو کې ماتې خوري، خو یوازې په حاشیوي ډول. وروسته پایلو په ډاگه کړه چې د خلکو گوند سخته ماته خوړلې وه. دا د هغې سروې پایله وه. که چېرته د پېښو د مخنیوي برخې ته راشو، نو پولیس په دې برخه کې ډېر اغېزناک دي. په دې برخه کې له پولیسو څخه بل غوره ځانگړی ځواک نه شته. د بېلگې په توگه، د لال مسجد پېښه چې گڼ شمېر ماشومان او ښځې د یادې ټولوژنې قرباني شول. زما په باور دا یو ناورین و چې د چارواکو له لوري په ناسم ډول مدیریت شو: ناسم ځواک او وسایل وکارول شول. په داسې حالاتو کې چې سلگونه ماشومان، ښځې او لسگونه اورپکي په یوه سیمه کې موقعیت لري، سیمې ته د ورتگ لار او کافي معلومات هم وي؛ نو اړینه ده چې د اورپکو د ځپلو لپاره له ځانگړي ځواک څخه کار واخیستل شي. ځانگړي ځواکونه پټ عملیات کوي او د ملکي وگړو د ژغورنې لپاره هڅه کوي چې اورپکي غافل کړي. خو حکومت د ځانگړو ځواکونو پر ځای رینجر ځواک استولی و، چې ټوله ساحه یې ویجاړه او وسوځوله، یاده پېښه د دې لامل شوه چې اورپکي ځانمرگي بریدونه وکړي. څو اونۍ وروسته زه په راولپینډۍ کې وم. په دې ښار کې گڼې سټوډیوگانې او خیاطان شته چې پوځیان ورته د عکس اخیستلو او یونیفورم جوړولو لپاره ورځي. زه د تل په څېر د بهاتي په نامه یوې مشهورې سټوډیو ته ورغلم، چې هلته مې د پولیسو یو مشر (S.H.O) مخې ته راغی. هغه وپېژندم او راته یې کړل:«جنرال صېب، دا خو د یوه SHO دنده وه، تاسو ولې ټول پوځ هلته بېولی و؟» یوازې یو تن S.H.O کولای شوای چې ساحې ته ورشي او وگوري چې څومره اورپکي هلته شته او بیا د هغوی د کورنۍ یو شمېر غړي یې راخیستی وای او د یرغمل کوونکو د خلاصون لپاره یې کارولي وای. خو حکومت د پولیسو پر اغېزناکتوب بې باوره و. همدارنگه د پېښور د ښوونځي پېښه چې ډېره ناوړه هغه وه. استخباراتي ادارو خبرداری ورکړی و چې یو مهم ځای به په نښه کېږي، خو له سلو څخه کوم یو؟ د پولیسو ځانگړې قطعې باید په پوځي ښوونځي کې چې د لوړو امنیتي گواښونو او کتنې په لېست کې و، غیر معمول فعالیتونه څارلي وای. تر پېښې مخکې دغه ډول معلومات خورا گټور دي. د ISI، RAW او IB (استخباراتي بیرو) دنده دا ده چې د ترهگریزو بریدونو په اړه یو لوی تصویر وړاندې کړي. یو پیاوړی ISI به یوازې دومره ووایي چې څوک یې ترسره کوي؟ څوک د ځایي خلکو په اړه ښه پوهېږي او له چا سره به معامله کوو؟ دا هغه څه دي چې د ځایي پولیسو دنده گڼل کېږي. د پولیسو د اغېزناکتوب په اړه باید ډاډ رامنځته شي.

دولت: زه خوشاله یم چې دا ټولې خبرې د جنرال له خولې اورو، نه زما. ځکه چې زه د استخباراتي بیرو (IB) یو پخوانی غړی یم، خو هغه یو جنرال او د ISI مشر دی.

سېنها: د ISI د مشرانو په ډله کې د هندیانو تر منځ تر ټولو بدنام کس جنرال حمید گل دی. نوموړی د هند لپاره داسې و، لکه اجیت ډوال چې د پاکستان لپاره و.

دورانی: حمیدگل زما ځایناستی و. زه حمیدگل له هغه وخته پېژنم چې موږ دواړه جگړنان وو. هغه یو مسلکي استخباراتي شخص و. ډېر متفکر. ډېره مطالعه یې کوله او ځانگړنه یې دا وه چې زیارکښ و او فرضیې به یې وړاندې کولې، بیا به یې په ځانگړو شرایطو کې تطبیقولې. زه نه پوهېږم چې نوموړی له مسلکي ژوند هاخوا څنگه شخص و، خو په دنده کې یې ځانگړې موخه لرله. د هغه بحث او خبرې به تل اغېزناکې وې. د تاریخ په اړه معلومات او نور. دا چې هغه وروسته مشهور شو، لامل یې دا و چې د همداسې تیوریو او فرضیو په اړه ډېر پوهېده. حمید خوښوله داسې کارونه ترسره کړي چې اغېز یې څرگند وي. که څه هم زه او هغه دوه متفاوت کسان وو، خو تر مرگه سره ملگري پاتې شوو. موږ د ځینو شیانو په اړه موافق او د ځینو په اړه مخالف نظر درلود، خو ملگرتیا مو پر ځای وه. زه هغه ستایم، د هغه پوهه، ژمنتیا او قرباني یې.

دولت: هو! موږ به کله کله ویل چې نوموړی یو شریر انسان دی. کله چې مړ شو، ډېر لږ شمېر کسانو یې په اړه غمرازي وښوده. تر ټولو په زړه پورې دا وه چې (اې کې ورما) په هندو ورځپاڼه کې په خپله یوه مقاله کې لیکلي وو چې یو وخت حمیدگل موږ ته د سولې وړاندیز وکړ. دا یې یو مثبت اړخ و. حقیقت او درک تل سره د پرتلې وړ نه وي او زموږ له خوا، چېرته بازانو ته نظر وکړئ، ورما یو باز دی. هغه لا هم د دې امتیاز حمیدگل ته ورکوي.

**دوام لري...**

# پنجشیر

حشمت الله نوري



پنجشیر د هېواد له نویو تاسیس شویو ولایتونو څخه دی، چې د کابل شمال- ختیځ ته په ۱۲۰ کیلومترۍ کې د هندوکش د دوو سوېلي څوکو په منځ کې موقعیت لري. دا ولایت له شمال- ختیځ څخه د سوېل- لوېدیځ پر لور له هندوکش سره موازي پروت دی او همداسې د شمال له اړخه شمال ته غځېدلی، چې له پنجشیر درې سره نښلول کېږي.

پنجشیر ولایت د سمندر له کچې ۲۲۱۷ متره لوړوالی لري او په لوړو برخو کې یې دغه ارتفاع ٦ زرو مترو ته رسېږي. د دغه ولایت اوږدوالی له دالان سنگ څخه تر انجمن کوتل پورې له ۱۲۵کیلومترو زیات دی.

د دغه ولایت پلنوالی بېلابېلې اندازې لري، چې له فني وسایلو او وسایطو پرته نه شي ټاکل کېدلی. دا ولایت د شمال له اړخه د تخار ولایت له خوست فرنگ او د بغلان ولایت له اندراب سره نښتی او له سوېل څخه د کاپیسا له نجراب سنجن او ریزه کوهستان او د ختیځ او د شمال- ختیځ له اړخه د بدخشان له نورستان ولایت سره او له لوېدیځ لوري څخه شتل احاطه کړی دی.

درې او کانالونه

د پنجشیر سیند د دې ولایت له مهمو سیندونو دی، چې د هندوکش له کوهستان او د گذرگاه انجمن له گاونډ څخه سرچینه اخلي او وروسته بیا د سوېل- ختیځ په لوري بهېږي چې د لارې په اوږدو کې ترې نورې څانگې هم بېلې شوې دي او وروسته بیا د کابل ختیځ ته په ٤٨ کیلومترۍ کې له کابل سیند سره یو ځای کېږي. پنجشیر د افغانستان له دایمي سیندونو څخه دی او ټول اوږدوالی یې ۳۲۰ کیلومترو ته رسېږي.

دغه ولایت جیوستراتیژیک موقعیت لري، په دې مانا چې له اوو ولایتونو یانې په شمال کې له تخار، په شمال- لوېدیځ کې له بغلان، په لوېدیځ کې له پروان، په سوېل کې له کاپیسا، په سوېل- ختیځ کې له لغمان، په لوېدیځ کې له نورستان او په شمال- ختیځ کې له بدخشان سره نښتی او د دې تر څنگ له دریو بهرنیو هېوادونو سره هم گډه پوله لري.

دا ولایت له ۱۲٦ لویو او په لسگونو نورو وړوکو درو څخه جوړ شوی دی، چې ډېری یې یو د بل پر وړاندې پرتې دي او په څو نورو فرعي درو وېشل شوې دي. همدې درو د پنجشیر ستراتیژیک اهمیت هم زیات کړی دی. د دې تر څنگ په کې لوړ غرونه او طبیعي یخچالونه هم شته، چې په ژمي کې د واورو اوبه زېرمه کوي او د گرمۍ په موسم کې بیا په چینو او لښتیو کې راوځي. دا ټولې چینې او لښتي بیا هم له پنجشیر سیند سره یو ځای او ښکته درو ته لوېږي.

د دغه ولایت په لوړو سیمو کې زرغونو څړځایونو، ښکلو او تلپاتې ځروبیو په دې ولایت کې د استوگنې زمینه مساعده کړې ده، چې د دې تر څنگ یې په طبیعي ډول د چریکي جگړو لپاره ښه ځایونه او امکانات را منځ ته کړي دي.

خلک

د دې ولایت د استوگنو شمېر ۳۰۰،۰۰۰ ته رسېږي. د پنجشیر مېشت قومونه له تاجکو، هزاروو، پشیانو، نورستانیانو او غلجي پښتنو څخه عبارت دي، خو عمومي ژبه یې فارسي ده.

اداري واحدونه

دا ولایت له اتو اداري واحدونو څخه جوړ شوی چې بازارک یې مرکز او پریان، نجچ، دره، رخه، عنابه ، شتل او آبشار یې له اوه گونو ولسوالیو څخه عبارت دي.

پوهنه

د دغه ولایت د پوهنې د رییس د معلوماتو له مخې، په دې ولایت کې ۱۵۰ ښوونځي فعال دي، چې له دې ډلې یې ۵۰ لېسې او ٤٥ منځنی ښوونځي دي. د دې ښوونځیو د زده کوونکو شمېره ٤٥ زرو تنو ته رسېږي چې ۱۲ زره یې نجونې او پاتې یې هلکان دي.

د دې تر څنگ یو انستېټیوت او د ښوونې او روزنې یو پوهنځی هم په کې فعال دی.

اقتصاد

پنجشیر ولایت تل د اړیکو له اړخه یو مهم ارتباطي مرکز پاتې شوی دی، چې یو ستر علت یې ورڅخه د کابل- پنجشیر اوبو لارې تېرېدنه ده. په تېر کې هم د باختر- هند کاروانونه د همدې لارې په شمال- ختیځ کې د پنجشیر سیند په اوږدو کې تېرېدل. دا ولایت نه یوازې چې یو سوداگریز تمځای و، بلکې یرغلگر ځواکونه به هم ترې تېرېدل. د خاوک غره څنډې هم هغه ساحې وې، چې د مقدوني سکندر سرتېري ترې هم په ۳۲۸ مخزېږدي کې تېر شوي دي او همدارنگه د تیمورلنگ سپرو په ۱۳۹۸ زېږدیز کال کې دا لاره وهلې او وروسته چې بیا په ۱۳۰۹ لمریز کال د خیبر په ډډه د موټرو لار جوړه شوه، نو پنجشیر په کې خپل لرغونوالی د یوې سوداگریزې لارې په توگه وساته.

کانونه

په پنجشیر ولایت کې د زمردو په څېر د قېمتي کاڼو کانونه شته. د دونالد ار هیل په نامه څېړونکی په اسلامي دورو کې د کانونو په اړه شوې څېړنه کې وایي، چې د نقرې اصلي کانونه په ختیځو اسلامي سیمو کې شته، چې مهم هغه یې د هندوکش کانونه دي، چې په پنجشیر او جاریانه ښارونو کې موقعیت لري او دواړه د بلخ په گاونډ کې پراته دي.

د راپور له مخې، په دغه ولایت کې ۱۰۰۰۰ کان کېندونکي کار کوي، د نقرې نور مهم کانونه په اسپانیا، شمالي افریقا، ایرانا او مرکزي اسیا کې شته دي. دا ولایت د ډېرو سکرو کان هم لري چې په ډېره کمه پانگونه گټې اخیستنې او د ملي اقتصاد پیاوړتیا ته چمتو کېدلی شي.

تاریخي مخینه

د ستر داریوش د پاچاهۍ په زمانه کې د پنجشیر- غوربند غرنۍ برخه د هخامنشیانو په ټاټوبي پورې د ستگیدیه تړلې سیمه وه، چې د هیروډېټ د وینا له مخې، ستگیدیه د ایران د ختیځ یا شمال- ختیځ د خلکو یوه برخه وه او مقر یې د هخامنشي واکمنۍ د وېش له مخې اوم ولایت شمېرل کېده.

ځینې بیا په دې اند دي چې مقدوني سکندر د غوربند او پنجشیر سیندونو د یو ځای کېدو په سیمه کې د اسکندریې په نامه یو ښار د دې لپاره جوړ کړ، څو په غرنیو سیمو کې د ده د سپاهیانو لپاره ترې د پوځي اډې کار واخیستل شي، خو وروسته بیا د پنجشیر په غرونو کې له لوړې او یخنۍ سره مخ شول، چې په پایله کې یې د بلخ ستر ښار ته مخه کړه.

کرکیله

په دې ولایت کې بېلابېلې مېوې شته چې له دې جملې څخه یې حسیني انگور او توت ډېر مشهور دي، خو په ځینو سیمو کې یې غنم او نور کرنیز حاصلات هم شته .

فرهنگ

په دې ولایت کې فرهنگي فعالیتونو ښه وده کړې، خو بیا هم د گاونډیو ولایتونو په پرتله کم دي. په دې ولایت کې د خراسان په نامه یوه راډیو، د پنجشیر په نامه پنځلس ورځنۍ او افتاب په نامه مجله خپرونې لري .

د دې تر څنگ په کې د کاروان قلم، د پنجشیر درې فرهنگي بنسټ او د پنجشیر ښځو سازمان په نامه مدني ټولنې هم فعالیت کوي.

د پنجشیر شخصیتونه او فرهنگي مشا هیر

احمد شاه مسعود، بنجهیري (پنجهیري، ابوالمظفر مکي‌بن ابراهیم‌بن‌علي‌الپنجهري) انجنیر محمد اسحاق، دستگیر پنجشیري، استاد غلام محی الدین دریځ، ناصرالدین دریځ، عبدالحی، عبدالحمید محتاط، عبدالحفیظ منصور، محی الدین مهدي، حیدري وجودي، قهار عاصي، خالده فروغ، صدیق برمک، څارنوال اکرام، ظاهر اغبر، طاهر شباب، صدیق شباب، داکتر عبدالله، احمد ضیاء مسعود، ولي مسعود، محمد یونس قانوني، بسم الله خان محمدي او نیلاب رحیمي د دې ولایت مشهورې څېرې دي.

لوبې

سره له دې چې پنجشیر ولایت د وزلوبې لوبډله لري، خو د لوبغاړو لخوا یې رزمي لوبې هم زیاتې دود دي، چې په دې وروستیو کې د دې ولایت کرکټ لوبډلې هم وده کړې او منتخبه لوبډله لري، چې په ولایتي سیالیو کې ښه ځلېدلې ده.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶,۸۵ |
| € | ۸۹,۲۰ |
| Rp. | ۴۷۶ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۰,۶۰ |
| £ | ۹۸,۲۰ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# د ټولو لویو بریالیتوبونو کیلي ګانې

ژباړه: حمیدالله حمیدي

پند لرونکې کلمې، پخواني متلونه، کلیوالي داستانونه او افسانې، هغه شتمني ده چې له یوه نسله بل نسل ته لېږدول کېږي او موږ پرته له دې چې یو د بل رنګ، ملیت، مذهب او قومي پولو ته پام وکړو، یو له بل سره مو وصلوي. یا دا چې دغه داستانونه مختلفې موضوع ګانې لري او هره یوه یې زموږ لپاره یوه سر لاره او مخبېلګه ده.

د دغو پخوانیو او پند لرونکو کیسو ټولیز مفهوم څه دی؟ زموږ لپاره دغه کیسې د نورو له تجربو د ګټې اخیستو او په خپل ژوند کې د دغو تجربو د کارولو په مانا دي.

سکاټلنډي لیکوال «ساموېل سمایلز» د بریالیتوب په اړه خپل لومړنی کتاب په ۱۸۵۹ کال کې خپور کړ. دغه کتاب چې ځانګړی نوم یې «له ځان سره مرسته کول» و، د «ناپلیون هېل» او «اوریسون سوت ماردن» لپاره یې د دې زمینه برابره کړه چې په دې برخه کې لیکنې وکړي او له همدې لارې د خلکو ذهنیت د بریا لور ته وهڅوي. ناپلیون هېل د بریالیتوب د خوځښت بنسټګر او د همدې برخې یو نوموتی لیکوال دی. هغه د بریالیتوب د جامع او هر اړخیزې فلسفې په تړاو ډېر کتابونه لیکلي دي. هغه وروسته له دې دا کار پیل کړ چې له ځان سره د مرستې په اړه یې د مشهورو او غوره بېلګو لکه اندرو کارنګي، توماس اډیسن، هنري فورډ او... د ژوند په اړه مطالعه وکړه. دا هغه کسان وو چې په مختلفو لارو او وسایلو یې وکولای شول خپلو موخو ته د رسېدو لپاره یو بل ته ورته رسالت په پوره بریالیتوب سره سرته ورسوي.

د وروستیو ۱۵۰ کلونو په اوږدو کې، د بریالیتوب د لارې فیلسوفانو او پوهانو ثابته کړه چې د ټولو لویو او کوچنیو بریالیتوبونو اساسي او بنسټیزه کیلي له «استقامت او مبارزې» پرته بل څه نه دي. همدا استقامت او مبارزه وه چې «جورج ګوتالز» یې پر دې برلاسی کړ چې د «پانامې کانال» له ځلونو ناکامۍ وروسته له سره جوړ او پر خپلو پښو یې ودروي. همدغه استقامت او مبارزه وه چې اډیسن یې پر دې برلاسی کړ چې برېښنایي ګروپ اختراع کړي. همدغه استقامت او مبارزه وه چې «ابراهام لېنکلن» ته یې انګېزه ورکړه چې له بیا بیا ماتو، کاري ناکامیو او په ټاکنو کې له اته ځله ماتې وروسته بیا هم وکولای شي چې د امریکا ولسمشر شي.

ناپلیون هېل لیکي:

له هغو لاملونو چې ډېری بریالي کسان تر ځلوېښت کلنۍ مخکې بریالیتوب ته نه رسېږي، یو دا دی چې دوی باید په ژوند کې له ډېرو ماتو او ځورېدنو سره مخ شي، ډېر خنډونه له منځه یوسي او د اړینې پوهې او تجربې له لاسته راوړلو وروسته بریالي او شتمن شي.

پر دې اساس، یوازې هغه کسان کولای شي په تاریخ کې خپل نوم ثبت کړي چې استقامت ولري، مبارزه وکړي او له ماتو څخه د وېرېدو پر ځای ترې سبق واخلي او زده‌کړه ترې وکړي.

کله مې چې د استقامت او مبارزې کتاب لوست، د هغه ماشوم په فکر کې شوم چې پنځوس کاله مخکې مې پېژانده. نوم یې «سکاټ شاور» و. هغه زما د ماشومتوب د لوبو ملګری و او کېدای شي چې د نړۍ د کرکجنو ماشومانو له ډلې به و. یوه ورځ زموږ تېرې او زیاتې خبرې زموږ تر منځ د دعوې او شخړې لامل شوې. زمونږ شاوخوا ته د خلاصون لپاره هېڅوک نه وو، نو تر هغه مو چې وس او توان و، شخړه مو وکړه. زه له هغه نه لږ مشر او قوي وم او ځومره مې چې کولای شو، ومې واهه! خو هر ځل به چې سکاټ پر ځمکه ولوېد، بیا به را پورته کېده او پر ما به یې حمله کوله.

شونډې یې وینې شوې وې، پر مخ یې اوښکې روانې وې او جامې یې هم شکېدلې وې، خو له دې هر څه سربېره یې بیا هم د غبرګون ښودلو هڅه کوله. د هغه غوسه تر بل هر ځل زیاتېدله او له ځمکې به را پورته کېده. کله چې د وروستي ځل لپاره له ځمکې را پورته شو، لاس مې ورکړ او ورته ومې ویل: «سکاټه، تا وګټله!» هغه ما ته وکتل، تندی یې وغوړېد او لاس یې راکړ. موږ تر څو تېرو کلونو پورې د یو بل نږدې ملګري وو.

د استقامت او مبارزې کتاب د سکاټ په څېر کسانو له ډېرو کیسو ډک دی. د هغو سړیو او ښځو له کیسو ډک دی چې ماتو ته نه دي تسلیم شوي. دغه کتاب ډېر په زړه پورې دی او د ناپلیون هېل بنسټ د نورو کتابونو پر سبک ولاړ لیکل شوی دی. دا کتاب د ډېرو نورو په څېر له ځان سره ساده توب، جذابیت او مثبت فکر لېږدوي او د هغو کسانو د داستانونو په درلودلو سره چې په غوره بڼه یې زموږ نړۍ ته بدلون ورکړی، زموږ لپاره د ژور او ګټور فکر کولو انګېزه او اجازه راکوي. دغه کسان هغه رهبران دي چې د بریالیتوب پر لور یې ځانګړې او لارښود لاره پرانیستې ده چې موږ هم کولای شو همدغه مسیر وڅارو او بریا ته ورسېږو.

کېدای شي زموږ موخې د هغوی له موخو سره توپیر ولري او یا زموږ ماتې د هغوی له ماتو او ناکامیو سره هېڅ ورته‌والی ونه لري، خو د هغوی د ژوند طرز او تګلاره زموږ لپاره مخبېلګه او الهام ښوونکې ده. د هغوی د تګلارو په څارلو او عملي کولو سره کولای شو چې د خپلې بریا او لاسته راوړنو پر لور ګام واخلو.

دغه کتاب د بریالیتوب په اړه ثابت شوي اصول او قوانین بیانوي. هغه اصول او لارښوونې چې پوهانو او مشهورو کسانو تجربه کړې او د خپل ژوند له لوړو ژورو نه یې د قېمتي ډېرو په څېر یو یو را ټول کړي دي. د دغو خلکو د ژوند داستان موږ ته را زده کوي چې که چېرې خپلو ټاکلو موخو ته د استقامت او مبارزې له لارې د عمل جامه ور واغوندو، له شک پرته چې لویه او نه ماتېدونکې بریا زموږ په برخه ده. دغه لارښوونې او داستانونه موږ ته را زده کوي چې ماتې او ناکامۍ باید بریالیتوب ته د رسېدو لپاره د نوو فرصتونو او لارو په مانا تعبیر کړو.

دغه کتاب د یو بریالي ژوند درلودلو لپاره هغه ځلېدونکې کیلي ده، چې د کتابونو له منځه یې باید را واخلو، ویې لولو او بیا یې هم ولولو. دا کتاب هماغه پیاوړې معجزه ده چې له موخو نه لاس اخیستل او لاس په سر کېدل مو بریا ته د رسېدو پر هیله او ارزو بدلوي.

## د بشري حقونو د څار سازمان: ښکېلې خواوې دې د ملکیانو خوندیتوب ته جدي پام وکړي

د بشري حقونو د څار نړیوال سازمان وایي، دې ته اړتیا ده چې د مذاکرو ښکېل اړخونه د ملکیانو خوندیتوب او د نامشروع بریدونو بندولو ته لومړیتوب ورکړي.

که څه هم د قطر په پلازمېنه دوحه کې د افغان دولت او طالبانو د مذاکره کوونکو خبرې د سپټمبر له ۱۲مې راهیسې روانې دي، له یوې خوا دغه خبرې د کومې نتیجې ته نه دي رسېدلې او له بلې خوا په افغانستان کې روانه ناامني نوره هم ډېره شوې.

د بشري حقونو د څار نړیوال سازمان د اسیا د برخې مرستیالې پاټریشیا ګاسمن ویلي، د دې لپاره چې خلک د سولې پر روانه پروسه باور وکړي، یوه باوري سیاسي جوړجاړي ته اړتیا ده.

هغې زیاته کړې: «عام افغانان د درک وړ سخته اندېښنه لري چې له یوې خوا خبرې ځنډېدلې او کومه نتیجه نه‌لري، له بلې خوا د ناامنیو زیاتېدل هم د ملکیانو د کړاو زیاتېدو سبب شوي دي. زما په نظر، د دې لپاره چې خلک پر دې پروسه باور ولري او دا پروسه د یوه سوله‌ییز جوړجاړي سبب شي، څرګنده ده هغه اړخونه چې په مذاکرو کې ښکېل دي، باید د ملکیانو خوندیتوب، د خلکو د کړاو کمېدل او د نامشروع حملو ختمول خپل مهم لومړیتوب وټاکي.»

تر دې مخکې د افغانستان د سولې لپاره د واشنګټن ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم په افغانستان کې د ناامنیو پر زیاتېدو اندېښنه ښودلې وه.

خلیلزاد تېره سې شنبه په خپل ټویټر کې لیکلي: «ناهیلی یم چې د اورکم لپاره له ژمنو سره سره دا کار نه‌دی شوی.»

خلیلزاد دغه راز ویلي، د یوه سیاسي جوړجاړي د ترلاسه کولو ور به د تل لپاره پرانیستی نه‌وي.

د سولې په چارو کې د دولت وزارت ویاندې هم ویلي، د دې لپاره چې په قطر کې روانې مذاکرې ښه نتیجه ورکړي، په‌کار ده اول د جګړې ښکېل اړخونه جګړه ودروي او پر یوه دایمي اوربند سلا وکړي.

خو په په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند محمد نعیم ازادي راډیو ته ویلي: «تماسونه او ناستې جریان لري، ستونزې به خامخا وي بیا هم هیله شته چې یوه نتیجه تر لاسه شي.»

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت یوناما هم تېره اونۍ په خپل یوه راپور کې ویلي، د روان ۲۰۲۰م کال په لومړیو ۹ میاشتو کې په افغانستان کې ۲،۱۱۷ ملکیان وژل شوي او ۳،۷۲۲ تنه نور ټپیان شوي دي.

## کابل ښاریان: د ککړې هوا د ستونزې د هوارې ژمنې تکراري دي، خو عملي شوې نه دي

د کابل ښار یو شمېر اوسېدونکي د ژمي په راتګ سره له ککړې هوا څخه اندېښنه لري. دوی وایي، اړوندو ادارو تل د دې ستونزې د هوارې لپاره تکراري ژمنې کړې، خو عملي اقدامات صفر دي.

د کابل دوه تنه اوسېدونکي نور احمد او بریالي وایي، حکومت تل ژمنې کړې، خو عملي ګام نه تر ستوګو کېږي. د دوی په خبره: «هوا چې ککړه شوې، دا د خلکو صحت ته ډېر تاوان کوي، په ځانګړې ډول هغه ماشومانو ته چې د سړک په غاړه اوسي. حکومت ته زما هېڅ خوله نه جوړېږي چې ووایم، دغه کار دې وکړي د دې لپاره چې دوی خپل مېز او څوکۍ نه شي سمبالولی، نو پاتې زموږ وطن او هوا دوی هېڅ هم نه شي کولای».

کابل ښاریان جمهور رییس لومړي معاون امرالله صالح وروستي دریځ ته په اشارې وایي، که لوړ پوړي چارواکي په خپلو خبرو کې جدي وي، پایله به یې اغېزمنه وي.

دا په داسې حال کې ده چې صالح تېره ورځ پر خپله فېسبوک پاڼه د خپلو پرېکړو په دوام په ۱۴مې پرېکړې کې لیکي، کابل ښاریان د ژمي په راتک سره بیا اندېښنه لري چې هوا ککړه شوې او حکومت هېڅ هم نه کوي.

هغه لیکلي چې داسې نه ده، دا ځل د جمهور رییس د حکم پر اساس، ۶۰۳ هغه لوړ پوړې ودانۍ چې د کابل ښار ۴۰ فیصده د ککړې هوا سرچینه ده، که دا ځل د هوا فلټرونو نصب نه کړي د چاپېریال ساتنې ادارې لومړی، دویم او درېیم درجې چارواکي به له دندو لرې شي.

هغه لیکلي چې د چاپېریال ساتنې اداره دې دا حکم جدي ونیسي او ټول خلکو ته دې د فلټرونو د نصب په اړه معلومات ورکړي. نوموړي په ټینګار سره لیکلي چې دا ځل د دې موضوع څخه تېرېدل عادي نه دي.

په ورته وخت کې د افغانستان د چاپېریال ساتنې ادارې نظارت او تفتیش برخې رییس نېک محمد وایي، د کابل ښار د چټلې هوا د کنټرول لپاره د اړوندو ادارو ترمنځ لازمه همغږي رامنځته شوې ده.

محمد زیاته کړې: «د چاپېریال ساتنې اداره د جمهوري ریاست د حکم پر اساس مکلفه ده چې د ټولو هغه فعالیتونو څخه چې هوا ککړوي نظارت وکړي، موږ په دې برخه کې ټول هغه هوټلونه، د ودونو تالارونه، د ښښتو بټۍ ګانې تر جدي نظارت لاندې نیولې، که په دې هر برخې بې غوري وشي نقدي جرمي پرې وضع کېږي او علمي کېږي.»

په کابل کې د ککړې هوا په اړه دغه اندېښنې په داسې حال کې دي چې د افغانستان د چاپېریال ساتنې ادارې او روغتیا نړیوال سازمان د معلوماتو له مخې، تېرکال په افغانستان کې۲۶ فیصده مړینه د ککړې هوا له امله و.

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۹ د لړم ۱۲مه | د ۲۰۲۰ د نومبر دویمه | ٦۲۱مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۱ | ۲٥ | ۲٤ | ۲٥ | ۲۷ | ۲٤ |
| ۱ | ٤ | ۱۲ | ۷ | ۱۱ | ۱۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٥۰ | لمر ختل ۰٦:۱٦ | ماسپښین ۱۱:۳۸ | مازیگر ۰۲:۳۷ | ماښام ۰٥:۰۱ | ماخوستن ۰٦:۲٥

## نړۍ




د امریکا ټاکنې او بې مخینې ناکرارۍ؛

**امریکایي چارواکي: په روانو ټاکنو کې کړکېچ ښایي په امریکا کې کورنۍ جګړې رامنځته کړي**

۳

## راپورونه: په ترکیه کې د وروستۍ زلزلې له کبله د مرگ ژوبلې شمېر نږدې ۹۵۰ کسانو ته رسېدلې



د راپورونو له مخې، د ترکیې په ازمیر ښار کې د وروستۍ سختې زلزلې د مړو شمېر ۴۹ او د ټپیانو شمېر ۹۰۰ کسانو ته رسېدلی دی. دا زلزله چې د ترکیې په ازمیر ښار کې یې ودانۍ ویجاړې کړې، د بحیرې د اوبو په طوفاني کولو سره یې د یونان لږ تر لږه دوه ټاپوگان هم ځپلي دي.

د ترکیې جمهور رییس رجب طیب اردوغان د ورم ماښام د ازمیر ښار ته ولاړ او له زلزله ځپلو سره د مرستو ژمنه یې وکړه. نوموړي وویل، هغوی چې کورونه یې له لاسه ورکړي، ورسره به مرسته وکړي چې په موقتي او کرایي کورونو کې ځای پر ځای شي او نوې ودانۍ به ورته ابادې کړي.

دغه زلزله چې د یونان د ساموس ټاپو په ساحلي اوبو کې رامنځ شوې، د قوت درجه یې د ریښتر ۷ درجې اټکل شوې ده. له زلزلې څخه څو ساعته وروسته د یونان لومړي وزیر د ترکیې جمهور رییس ته په بې ساري ټلیفوني مکالمه کې خپله خواخوږي ښرگنده کړه او بیا یې په خپل ټویټر ولیکل: «که څه هم چې موږ سره اختلافونه لرو، دا هغه وخت دی چې خلک سره یو ځای دربدو ته اړتیا لري.»

د ترکیې جمهور رییس هم د هغه په ځواب کې په خپل ټویټر ولیکل: «دا چې دوه گاونډیان یو بل ته په سخت وخت کې خپل ملاتړ او خواخوږي ښرگندوي، د ژوند د ډېرو شیانو په پرتله زیات ارزښت لري.» په ورته وخت کې د امریکا متحده ایالتونو د ترکیې او یونان د زلزلې ډیپلوماسي ستایلې او له دواړو سره یې د مرستو تیارې ښودلې دی.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۴٦ میلیونه او ٥۹۰ زره او ۹٥۱ ته رسېدلې

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۴٦ میلیونه او ٥۹۰ زره او ۹٥۱ ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۲۰۲ زره او ۸۱۸کسان مړه شوي او له نږدې ۳۴ میلیونه ترې ببرته رغېدلي دي.

د امریکا متحده ایالتونه لاهم د کرونا وبا د ډېرو مثبتو پېښو او مړو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې نهه میلیونه او ۴۱۴ زره او ٦۴۱ ته رسېدلي او ۲۳٦ زره او ۱٥۴ نور امریکایان یې مړه کړي دي.

تر امریکا وروسته هند د کرونا ویروس د اته میلیونه او ۲۰۸ زره او ۷۷۴ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د پنځه میلیونه او ٥۳٥ زره او ٦۰٥ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریېم، روسیه د یو میلیون او ٦۳٦ زره او۷۸۱ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او فرانسه د یو میلیون او ۳۷٦ زره او ٦۲٥ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

## اتحادیهٔ شرکت‌های ساختمانی: بسیاری از فیصله‌های شورای عالی اقتصادی عملی نمی‌شوند

اتحادیهٔ شرکت‌های ساختمانی ادعا دارد که بسیاری از فیصله‌های شورای عالی اقتصادی در کشور عملی نمی‌شوند.

به گفتهٔ اعضای این اتحادیه، بدلیل عملی‌نشدن فیصله‌های این شورا بسیاری از شرکت‌هایی که نمی‌توانند پروژه‌های دولتی را بگیرند با رکود روبه‌رو شده‌اند. بشیر آتش‌بان، مسؤل بخش مالی اتحادیه شرکت‌های ساختمانی اظهار داشت: «فیصله‌ها بعد از آن‌که اعلام می‌شوند، به‌صورت درست آن که باید تطبیق شوند، تطبیق نمی‌شوند. و پی‌گیری همه‌جانبه صورت نمی‌گیرد. بنابر همین دلیل مشکلات سکتور ساختمان سازی هر روز افزایش یافته‌است.»

اما داواخان مینه پال، معاون سخن‌گوی ریاست جمهوری در این باره بیان داشت: «کسانی که شکایت دارند می‌توانند، به ادارهٔ مسؤول شکایت کند.»


از سویی هم، مسؤولان شرکت «تدبیر کابلستون» که یک شرکت پروسس سنگ فرش‌ها است، می‌گوید با وجود فیصلهٔ دوسال پیش شورای عالی اقتصادی مبنی‌بر این‌که پیمان‌های یک پروژهٔ امتیازی سنگ فرش‌ها در پایتخت به این شرکت داده شوند، اما تاکنون هیچ پیمانی به آنان داده نشده‌است و سرانجام این شرکت با سرمایه‌گذاری یک میلیون دالر از دونیم سال بدینسو از کار بازمانده‌است.

محمد ظهیر یعقوبی، معاون شرکت تدبیرکابلستون گفت: «بنابر کمبود بودجه و نبودن امکانات کافی مدت سه سال می‌شود که این پروژه تعطیل است.»

در حدود سه سال پیش در چهاردهمین نشست شورای عالی اقتصادی، طرح شرکت تدبیر کابلستون برای راه‌اندازی پروژه‌های سنگ‌فرش جاده‌های فرعی شهری و اماکن تاریخی و پیاده روها در پرنسیپ مورد تأیید شورای عالی اقتصادی قرار گرفت و به شاروالی کابل و وزارت شهرسازی دستور داده شد تا پروژه‌های لازم را در این بخش طراحی و به شرکت کابلستون بسپارد، اما به گفتهٔ آنان تاکنون هیچ پروژه از سوی شهرداری کابل ویا نهاد دیگر دولتی به آنان داده نشده‌است.

## ژوند

## د ستروس د پوټکي له گټو خبر یاست؟



په دې ټول پوهېږي چې د ستروس د کورنۍ میوې د روغتیا لپاره گټور انزایمونه، غذایي مواد او فیتوکېمېکلز لري؛ خو څېړنو ثابته کړې چې د ستروس مېوې پوټکی چې خلک یې لرې غورځوي، اکثره خپله له میوې څخه زیاتې روغتیایي گټې لري. د ستروس مېوې پوټکی د روغتیا لپاره اضافي گټه لرونکي مرکبات لري او د کلسیم، وېټامین‌سي، انټي‌اکسېډنټونو او بایوفلونایډونو غوره سرچینې دي. پر دې سربېره، پوتاشیم چې د وینې فشار کنټرولوي اوفیتوکېمېکلز چې د سرطان ضد ځانگړنې لري، غوره سرچینه هم بلل کېږي. د انگلستان په فارماکالوجي او ټوکسیکالوجي څېړنیزه طبي مجله کې خپره شوې څېړنه کې ثابته شوې، چې د لیمو په پوټکي کې شته تېل د مېکروب ضد پیاوړي خواص لري. دغه تېل د فنگس، باکتریا او ویروسونو ضد خواص لري. دا په دې مانا چې د لیمو پوټکی مو له نزلې، زکام، د کولمو پرازیتونو او باکتریا له امله له رامنځ ته کېدونکو ناروغیو څخه ژغوري.

## شیاومي کمپنۍ تر اپل مخکې شوه

سږکال د کووېډ-۱۹ نړیوالې وبا د ټولې نړۍ سوداگري اغېزمنه کړه او د ځیرکو موبایلونو بازار هم له دې نړیوالې وبا څخه خوندي پاتې نشو. خو د ځیرکو موبایلونو ځینې کمپنۍ پر دغو ناځرگندو حالاتو سربېره، وتوانېدې چې ټوله نړۍ کې په مېلیونونه ځیرک موبایلونه وپلوري. ای ډي سي د ۲۰۲۰ کال په درېیمه ربعه کې د مختلفو کمپنیو له لوري د پلورل شویو ځیرکو موبایلونو شمېر خپور کړی دی. د دغه راپور پر بنسټ، سامسُنگ کمپنۍ یو ځل بیا د نړۍ د ځیرکو موبایلونو تر ټولو سترې کمپنۍ په توگه خپل مقام ساتلو کې بریالۍ شوې ده. هواوې کمپنۍ هم د پلورل شویو ځیرکو موبایلونو شمېر له پلوه خپل دویم مقام ساتلی دی. هواوې کمپنۍ په دې موده کې ٥۱,۹ مېلیونه ځیرک موبایلونه پلورلي چې دغه شمېر د تېر کال ورته مودې په پرتله د امریکا د بندیزونو له امله کم دی. هواوې کمپنۍ تېر کال په ورته موده کې ٦٦,٦ مېلیونه ځیرک موبایلونه پلورلي وو؛ خو تر ټولو حیرانوونکی دا دی چې شیاومي کمپنۍ اپل ته په ماتې ورکولو سره درېیم مقام خپل کړی دی. دا لومړی ځل دی چې اپل دې درجه بندۍ کې څلورم مقام لري.

## د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک
Azizi Bank



عزیزي بانک خپلې د ازي پې بټوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او گټې لکه: بایومتریک ننوتل-د گوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انگلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af 1515